نظرمحمد مطمئن

۲۰۱۶/۰۶/۱۷

# د غني اقتصاد او د کابل یولسم روژه مات

د سولې اړوند له یو مجلس څخه راووتم، وزیراکبرخان کې د یو ملګري لیدو ته د سړک په غاړه ودریدم، د ونو سیوري ته دوه تنه ځوانان له خپلو لاسي ګاډیو (کراچیو) سره ناست وو، دواړو خپلو کراچیو ته تکیه کړې وه، ممکن د بیکارۍ او خپل غربت اړوند چورتونه به یې وهل، زه او ملګری هم همدلته د ونو سیوري ته ولاړ او خبري مو کولې، موږ چې نور غوښتل له همدې ځایه ولاړ شو، د همدې دوو ځوانانو څخه یې یو راغی، په ډیر عاجزانه ډول یې وویل چې وروڼو! ګرده ورځ مو کار نه دی کړی، د روژه مات له پاره چې باید خوراک برابر کړو، موږ نن کومه دیاړي (مزدوري) نه ده کړې، که ستاسي له وسه مرسته کیږي.

دا دوا ړه ځوانان سوالګر نه وو، هغوی د همدې لاسي ګاډۍ له برکته خپل ځان او کورنیو ته روزي پیداکوله، زه پوهیدم چې ډیره به سخته وه چې هغه ځوان د مرستې غوښتنه وکړه، خو چاره یې هم نه درلودله، کور کې به یې ماشومان ورته منتظر وو.

زما ملګري راته وویل چې ته ولي چورت یوړې، زه به تر دې هم نادره درته وکړم، هغه وویل چې سرای شهزاده ته موږ دوه ملګري ولاړو، روژه ده، د سړې هرشي ته رضاء کیږي، د کابل سیند دابله غاړه چې هلته سبزي خرڅیږي، موږ هم له موټر سره وروګرځیدو، چې له موټر څخه کښته شوو، د سوالګرو دومره بیروبار وو چې موږ یې په سودا اخیستلو پښیمانه کړو، ډیری یې کوچنې هلوکان او نجوني وې، هغه ویل چې چا له لمنې کښولم، چا له لاسه او چا هم زارۍ کولې چې رمضان دی، کومک وکړئ، موږ کور کې د خوراک له پاره کوم څه نه لرو.

زما ملګری وایې چې سوالګرو ښه په تنګ کړو، لږ سبزي مو واخیستله او بیرته چې موټر ته روان وم، تر هغه ځایه همدا نجوني او هلوکان راپسي روان وو، سمه ده چې موږ هم پیسې سوالګرو ته ورکولې، خو بله ډله به راپیداشوه، وار په وار د سوالګرو ګڼه ګوڼه زیاتیدله، ډیر په زړه کې ځوریدم، خو چاره مي هم نه وه، ځکه دا کسان یو، دوه او پنځه نه وو.

هغه وایې چې کله مې د موټر مخ راوګرځاوو چې نور به حرکت کوم، درې میرمنې مې د موټر سره نږدې راته ولاړې وې، هغوی زارۍ کولې، چې پیسې یې غوښتې. د میرمنو د لاسو څخه معلومیدله چې دا هم ځواني وې، کوشش مې وکړ چې موټر ته حرکت ورکړم، خو یوې میرمنې خپله چادرۍ له ګریوانه لیري کړه، په غیږ کې یې ماشوم وو، او باور وکړۍ چې هغه ماشوم د ۲۰ ورځو نه معلومیدی، نوی زیږیدلی ماشوم وو، کله چې مې د میرمنې په غیږ کې دا تنکی ماشوم ولید، تاسي فکر وکړئ چې څومره به ځوریدلی یم. د همدې تنکي ماشوم په لیدو مې سترګې پټې شوې، هغې میرمنې ته مې د خپل وس مطابق پیسې ورکړې. خو زه په دې فکر کې وم چې دا هیواد کې نسیتې او لوږه او سوالګر څومره ډیر شوي، دا ګرده افغانان وو، بل څوک نه وو، نه دکشمیر نه هم د تاجکستان سوالګر وو. دا میرمن به څومره مجبوره وه چې خپل نوی زیږیدلی ماشوم په غیږ کې په تکنده غرمه کې یې هغه تر چادرۍ لاندې نیولې او سوال یې کاوو، چاره به یې نه درلودله.

همدا ملګری مې وایې چې کله د غني د کمپاین وخت وو، زه د ځوانانو یو مجلس ته وربرابر شوم، هلته یو د اطاق په معتبر ځای کې ناست وو، هغه ویل چې که خدای کول اوس به افغانان د روزي خاوندان شي، کله چې غني ولسمشر شي موږ به نور د عربو هیوادونو له مزدورۍ څخه خلاص شو، هغه بل پري ورږ.غ کړه، چې د چین ولسمشر له غني څخه مننه وکړه چې د چین اقتصاد یې ورجوړ کړ، داچین چې اوس دومره مخکې دي همدا اقتصادي پلان یې اشرف غني کاکا جوړ کړی دی.

یوه بل بیا ویل چې ولادیمیر پوتین یې سخت ملګری دی، او هغه ځکه چې د روسیې اقتصاد ډاکټر غني ورته په پښتو ودراوی، د همده مشورې وي چې نن روسیه داسي ځواکمن اقتصادي هیواد دی. او ځینو بیا ویل چې په نړیوال پرمختیایې بانک کې یې ریکارډ پروت دی.

هغه ملګری وایې چې کله مې د کابل سیند په غاړه د سوالګرو دا حالت ولیدی، له ځان سره مې وویل چې سیاست ټول دروغ دي، غني موږ ټول غلط کړو او ویې غولولو چې ستاسي په سترخوان کې به د یوې ډوډۍ پرځای دوه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ډوډۍ وي، له نړۍ سره به افغانستان سیال کړم، نه داچې سیال نه شو، تر پخوا هم کمزوري او ځوانان مو د بیکارۍ له امله له هیواد څخه تیښته کوي.

زما ملګری وایې که زما پر خبرو ځوک شک لري نو یوځل دي د خدای ج له پاره د سرای شهزاده پرمخامخ د کابل سیند پر غاړه سبزي خرڅونکو ځای ته ورشي، هلته به د افغان سوالګرو همدا بد حالت په خپلو سترګو ووینې.

زه لیکوال هیله کوم چې غني د دې پرځای چې کابل کې مجید مال او یا هم کابل سیټي ته سر ورښکاره کړي، ښه به وي چې په رمضان کي د افغان سوالګرو همدا بد حالت په خپله ووینې، او باوري دي وي چې هغه سیمه کې امنیتي ستونزه هم ورته نه پیښیږي ځکه هلته ټول غریب خلک دي، او که بیا هم د ویري او ډار له امله د ارګ له څنډۍ څخه نږدې دغه ۲۵۰ متره لیري د سبزیو خرڅولو ځای ته نه شي ورتلای، له خپلو هیوادوالو دي مرسته وغواړي موږ به هم ورسره ولاړ شو، ترڅو د سوالګرو او بې وزلو د غربت دغه حالت په خپلو سترګو ووینې.

کاش چې د روژه مات په وخت کې همدا د افغانانو او ځانګړي ډول د سوالګرو بد حالت کوم بامسؤلیته افغان په ارګ کې غني ته ووایې. زه خبر یې چې غني په دې هم د ارګ یو پخوانی او باتجربه اشپز چې د امیرعبدالرحمن خان له وخت څخه یې کورنۍ، نیکونه او پلرونه په ارګ کې اشپزي کوله، پسې واخست، ځینې وایې چې د غني لیبیایې اخشي (د بې بي ګل) ورور ته یې ښه ډوډۍ نه وه تیاره کړي، او ځینې وایې چې تر خپلې اندازې زیاته ډوډۍ یې تیاره کړې وه، ځکه د غني له خوا هغه آشپز له ارګ څخه پسې واخیستل شو، او ځینې خو لا وایې چې د غني اخشی د بی بی ګل ورور افغانستان ته د دې له پاره راغلی چې دلته په لویو قراردادونو کې شریک شي او د بې وزله افغان ولس پیسې دوی هم غلا کړي.

موږ په سترخوان کې دوه ډوډۍ نه غواړو، موږ سوله غواړو، د جګړې پرځای دې د سولې پروسه مخکې یوسي، او په جګړه دې اصرار نه کوي، جګړه د حل لاره نه ده، او نه هم اوسنۍ جګړه ګټونکی لرۍ، دا ټولې بدبختۍ او دربدرۍ د جګړې د دوام له امله دي، په دې هیله چې د افغانانو د زړه درد او دغه اواز او له عبرته څخه ډک یادښت د غني پلویان ورته په مثبت نظر وګوري او په ګډه د سولې له پاره کار وکړو، د جګړې د ختم او په هیواد کې د امن له پاره لاسونه سره ورکړو.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ